# د روغتیا پاملرنې مالي مرستې پالیسۍ لنډیز په ساده ژبه

## عمومي کتنه

د خپلو ټولنو د روغتیا ښه کولو لپاره د دې ماموریت په رڼا کې، د بې وزلو او هغوی چې لږ خدمت ورته شوی باندې د ځانګړي تاکید سره، او د عیسی علیه سلام د شفا بخښنې خدمت نه په الهام اخیستنې سره، Bon Secours Mercy Health ژمن دی چې خپلو ناروغانو ته مالي مرسته وړاندې کړي.  دا د Bon Secours Mercy Health د روغتیا پاملرنې مالي مرستې (HFA) پالیسي لنډیز دی.

## د مالي مرستې شتون او موجودیت

د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابرې د تادیه کولو لپاره د ناروغ یا د هغه/هغې تضمین کونکي د وړتیا له مخې مشخص کېږي وروسته لدې چې ټولې موجود سرچینې کارول شوي وي او ټول موجود د مرستې پروګرامونه ارزول شوي وي.  مالي مرسته د Bon Secours Mercy Health د روغتونونو (او ځینې نورو روغتیا پاملرنې وړاندې کونکو) لخوا وړاندې کېدونکې بېړنۍ او نورې لازمي طبي پاملرنې لپاره هغه بیمه نلرونکي او د بیمې کم پوښښ لاندې ناروغانو لپاره موجود ده څوک چې په هغه ټولنه کې اوسیږي چېرې چې د Bon Secours Mercy Health روغتون لخوا خدمت وړاندې کیږي او د چا د کورنۍ عاید چې د فدرال د بې وزلۍ لارښوونو (FPG) د څلور چنده څخه زیاتیګی نه.

## د مستحق پیژندل کیدو شرایط

مالي مرسته عموماً د FPG پرسنټ د کورنۍ مجموعی عاید د مقیاس له مخې مشخص کیږي.  زموږ د پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر افراد چې د عاید سطحه یې د FPG 200٪ یا ټیټه وي وړیا درملنه (پاملرنه) ترلاسه کوي.  هغه افراد چې د عاید سطحه یې د FPG د 201٪ تر 300٪، او د FPG د 301٪ تر 400٪ پورې وي، په ترتیب سره د ټاکلي مقیاس اندازې له مخې پاملرنه کې تخفیف ورکول کیږي، لکه څنګه چې په پالیسي کې لیکل شوي دي.  د ٪201-٪300 FPG، او د 301٪ تر ٪400 FPG لپاره مشخص سلنې تخفیف، د عاید سطحې د لګښت جدول کې د لګښتونو سره متناسب د هر بازار لپاره په کلنيز ډول تازه کیږي.

هغه افراد څوک چې د HFA پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر نه وي هغوی باندې د بېړنۍ او نورې لازمي طبي پاملرنې لپاره لګښت مقدار ډیر پورې کیږي په مقایسه د داسې افراد څوک چې د دې ډول پاملرنې لپاره بیمه لرۍ.   که چیرې یو څوک د بیمې کافي پوښښ یا شتمنې ولري چې د پاملرنې لپاره یې تادیه کړي، نو هغه د مالي مرستې لپاره نا مستحق یا په شرایطو نه برابر ګڼل کیږي.  د هغه نا بیمه شوي ناروغانو لپاره څوک چې د HFA پالیسۍ کې شرح شوي د مالي مرستې تخفیفونو لپاره شرایط پوره نکوي، Bon Secours Mercy Health د هغوی د روغتون بیلونو ته اتومات (پخپله تادیه) تخفیف وراضافه کوي.  د مکمل وضاحت لپاره مهرباني وکړئ د HFA بشپړې پالیسي ته رجوع وکړئ.

## د غوښتنلیک پروسې په اړه

زموږ د HFA پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره د غوښتنې کولو پروسه کې دا مراحل شامل دي:

- د HFA غوښتنلیک فورمه ډکه کړئ او اړین همایت کوونکي اسناد پکې شامل کړئ.
    - موږ تاسي ته موجود مرستې د سطحې مشخص کولو لپاره ستاسې عاید او د کورنۍ تعداد ته کتنه کوو.  موږ د پورته په ګوته شوي FPG پرسنټ، د ټاکلي مقیاس اندازه کاروو.
    - موږ غواړو چې تاسې لومړی باید د بیمې مرستې ځینې ډولونو لپاره په شرایطو برابرۍ لټون وکړئ چې ستاسې پاملرنه به وپوښي (لکه د کارګرانو تاوان، د وسایطو بیمه او نور).  موږ مناسب سرچینو ته ستاسې لارښود کولو کې مرسته کولی شو.
- موږ به تاسې ته د دې ویلو لپاره تاسې سره اړیکه ونیسو چې آیا تاسې زموږ د HFA پالیسي لاندې د مالي مرستې لپاره په شرایطو برابر یاستې.
- موږ کولی شو تاسې سره د پاتې لګښتونو یا بیلونو لپاره د تادیه پلان ترتیب کولو کې مرسته وکړو کوم چې زموږ د HFA پالیسي لاندې پوښل شوي نه دی.
    - د تادیه پلان ستاسې مالي وضعیت په پام نیسی ترڅو د تادیاتو داسې مقدار وټاکل شي چې تاسو مدیریت کولی شی.

## معلومات له کومه ترلاسه کړو

تاسې کولای شئ زموږ د HFA پالیسي او د HFA غوښتنلیک فورمې د کاپي، او همدارنګه د مالي مرستې د غوښتنلیک پروسې په اړه په لاندې توګه معلومات لاسته راوړئ: (1) زموږ ویبپاڼې ته ورشئ www.bsmhealth.org/financial-assistance, www.mercy.com/financial-assistance، یا (2) د ناروغانو د مالي خدماتو د اداري سره د په 1-855-732-0138 شمیره اړیکه ونیسئ، (3) دغه پتې ته په لیکلي بڼه غوښتنې ولیږئ: Mercy Health Public Benefits Dept, پوست بکس شمیره 631774, Cincinnati, OH 45263-1774، یا (4) زموږ روغتونونو کې مخامخ په حضوري ډول زموږ د مالي مشاورینو سره اړیکه ونیسئ (د تاسیساتو او اړوندو پتو د مکمل لیست لپاره زموږ د HFA بشپړه پالیسي وګورئ).

د Bon Secours Mercy Health خدمتونو ترلاسه کونکي ټول هغه د پام وړ وګړي چې په انګلیسي ژبه محدود پوهېږي د هغوی لپاره موږ زموږ د HFA پالیسي، د غوښتنلیک فورمه، او دا لنډیز هغو ژبو ته ژباړو چې هغوی ورباندې خبرې کوي.  موږ کولی شو د ژباړې مرستې، د ژباړې لارښود یا د وړ دوه ژبو ژباړونکو په کارولو سره مرستې چمتو کړو.